# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

## AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد     بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم     از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com     afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
| --- | --- |

انجنیر سید عبدالقادر
۱۶ نومبر ۲۰۱۳

# دامریکا سره دامنیتي تړون امضاء کیدل
# که د استعماري اشغال د نوي پړاوپیلیدل

### په خوله وايي خو په زړه يي وطن نه دي – داد چیغو تیکه دار دی مین نه دي




زموږپه وطن کې نیژدي ددولسو کلونو راهیسي دامریکا تر رهبري لاندي غربي نړي داسي یوه خطرناکه لوبه پیل کړي ده ، چې داوس مهال دمنطقي په ډیرو حساسو سیاسي او نظامی شیبو کي دالوبه خپل ځان یوه نوي پړاو ته ننه باسي ۰ که دسیاسي تعقل او ملي ګتو په رڼا کي ددې لوبي ژر تر ژره مخنیوي ونه سي ، نو دځاني تلفاتو وخنګ ته به نه یوازي دا ولس دبربادي وکندي ته واچوي ،بلکه دمنطقي هیوادونه به هم داور په لمبوکي وسوځوي ۰ ځکه نو لازمه ده چې پر وطن مین روشنفکران په ځانګړي توګه هغه سیاسي ګوندونه او اجتماعي سازمانونه چې ځانونه ملي او ډموکراتیک بولي ، د ولسی مقاومت سره یو ځاي ژرترژره دیو ملي تفاهم په رڼا کي دا لوبه رامهار کړي ۰ ځکه دد ې لوبی استعماری لوبغاړی غواړی دافغان ( کورني بشری اواقتصادی جنایتکارانو) سره په ګډه دافغان ولس مادی شتمنی دزور په لیونتوب په یوه اوبله بهانه د تیرو دولسو کلونو په څیرد ځان سره یوسي۰ او افغان معنوي شتمني بیا دغربی کلتور قرباني کړي ، چې ددې استعماري او استثماري پروسي لړي نن افغان یرغمل ولس په خپلو سترګو باندي ویني ، یعني ( د مخکو او نورودولتي ملکیتونو غصبول ، بدلمنیو «فحشاء» ته دډموکراسي تر نامه لاندي لاره خلاصول ، د ځینو ولایتونو په ولسوالیوکي دیرغلګرو پوځیانو له خواه دشپي دکورونو په پلټنه کي پر یو شمیر افغاني ناموسونو باندي دهم دي جنایتکارانو له خواه جنسي تیري حتا دکندهار په ځینو ولسوالیو کي ددوی له خواه دافغاني ښځو تښتول او ورکیدل ، د پلټني پر وخت پر ځینو زړو او ځوانونو باندي دتیلو اچول ، سوځول او په شهادت رسول ، داسلام دمقدس دین ځخه په پټو کلیسا و کي عیسویت ته دافغانانو اړول) چې دا دپورتني ادعا دثبوت له پاره یو څو ښکاره اولندي بیلګي دي. په تیرو دولسو کلونو کي دپورتنیوجنایاتو په وړاندي کرزي او ډلي يي یوازي تأثر ښکاره کړي ، په نامه دپلټني کمیسون ټاکلي اوبس. ښکاره خبره ده چي دامنیتي تړون تر لاس لیک وروسته به دپورتني جنایاتو لړي داشغالګرو او کورنیو جنایتکارانو له خواه په پوره ډاډه زړه مخ ته روانه وي ۰

ځکه نو ضرور ده چې دامنيتي ټرون دلاس ليک کولو په وړاندي دوطن پالني اوافغانيت په پوره صداقت او ايمانداري باندي مقاومت وسی، څو دراتلوونکو نسلونو دپاره نه يوازي وياړ بلکه دښه ژوند سبب هم وګرځي ۰ ودې ملي هدف ته درسيدو له پاره دغه ملی سياسي ډلي او مستقل سياسي کارپوهان بايد دافغانستان داوسني لانجي دحل له پاره ديوه معقول سياسي حل وړانديځ نړيوالوته وړاندي کړي ، څو په عين حال کي دامنيتي تړون پر ځاي، سياسی حل د بديل په توګه راميدان ته سي ۰ چې په دې هکله زما دنظرڅوټکي ددې ليکني په وروستي برخه کي محترم لوستونکي ويلايسي ۰ البته ما دغه دسياسي حل وړانديځ نيژدي دپينځو کلونو راهيسي ونړيوالو او افغاني سياسي ډلوته دافغاني ويب پاڼي له لاري ونشرته سپارلي دي.

**ددې ليکني اصلي مخه دامنيتي تړون پر حقوقي مشروعيت او قضايي مصونيت باندي ده ۰دا ځکه چې په اوسني مهال کي افغان ولس داشغال تر بيرغ لاندي دملي مقاومت تر څنګ خپلي شپي صبا کوي ، لازمه ده چې ددې سؤال په ځواب باندي خپل پرغمل ولس پوه کړو**

آيا په اوسني تر يرغل لاندي مهال کي داسي يو مشروع ارګان شتون لري ، چې ددې امنيتي تړون دلاس ليک صلاحيت ولري **؟ په ځواب کي ويلايسو چې نه ، ځکه په اوس مهال کي هيڅ نوع داسي مشروع ارګان شتون نه لري ، حتا چې امنيتي تړون بيله قضايي مصونيت څخه هم لاس ليک کړي ۰ په دې اړوند دښه وضاحت له پاره لازمه ده چې لومړي مشروعيت تعريف کړو :**

مشروعيت : عبارت دهغه حقوقی صلاحيت څخه دی ، چه داکثريت خلګو درايو او ارادې داخستلو په نتيجه کی يو دولت تر لاسه کوي ۰ دا تعريف دنړي داکثريت مروجو دموکراتيکو دولتونومنعکس کونکی دی ۰دسياسی او اجتماعي علومو پوهانو مشروع دولتونه پر درو برخو باندي تقسيم کړي دي :

لمړي ـ هغه خارق العاده شخصيت چه دخلګو ملاتړد بي ساري احساساتو له لاري تر لاسه او ددولت په راس کي قرار ونيسي

دوهم ـ هغه دولتونه چې په عنعنه ئي يا سنتي ډول يي د خلګو باور تر لاسه او مشروع بلل سوي دي۰

دريم ـ هغه دولتونه چه په ډموکراتيک شکل يي داکثريت خلګو درايو داخستلو په نتيجه کي مشروعيت تر لاسه کړي وي ۰ بايد وويل سي چه دادريم ډول دولتونه که په ريښتيني توګه بي له درغليو څخه داکثريت خلګو رايه تر لاسه کړي ، دخلګو درينتيني ارادي منعکس کوونکي دی ۰ چه دا دولتونه نظر ونورو دولتونو ته ډير ه دموکراتيکه بڼه لري ۰ بايد ووايو ، مشروعيت يو ثابت مفهوم هم نه دی دا ځکه چه په لمړي قدم کښي ځيني دولتونه کيدلايسي دخلګو درايو ورکولو په نتيجه کي مشروعيت تر لاسه کړي ۰ ولي وروسته د هغوپلانونو څخه چه تولټاکنودتبليغاتي کمپاين پر وخت يي د هغو په نتيجه کښي دخلګو راي تر لاسه کړي انحراف وکړي ، نو دخلګو باور او اعتماد دلاسه ورکوي ۰ نو په دې صورت کي بيا دا دولت يو غير مشروع دولت بلل کيدلايسي۰ که په دغو هيوادونو کي ډموکراسي موجوده وي نو خلک کولايسي دبيا ټولټاکنو غوښتنه و کړي ۰ او که يي په هيواد کښ ډموکراسي موجوده نه وي ، نو بيا دا دولت تر خپل ټاکلي وخت تر ختميدو پوری دبرچي په زور خپل حاکميت پر ولس باندي تحميلوي۰

بايد ووايو چې نيژدې ديوه کال راهيسي امريکايي او افغاني خرڅ سوي لوبغاړي په دې لټه کي دي چې دامريکا سره دا امنيتي تړون لاس ليک کړي ۰ څو وکړايسي ددې تړون په رڼا کي افغانستان دتيرو دولسو کلونو په څير تر خپل استعماري او استثماري چتر لاندي وساتي ۰ امريکا ددې سند په لاس ته راوړلو سره غواړي چې نه يوازي نړيوالو ته بلکه خپل ولس ته هم دا وښيي چې په افغانستان کي زموږ پوځي اډي دافغان ضرورت له مخي پاته سوي او شتون لري، بله کومه مخه نه لری

حقیقت خو دادي چې دځینو سیاسي کارپوهانو له نظره  اوباما ستراتیژیکي او امنیتي تړونونه دخپل ځان سره امضاء کوي ۰ داځکه چې دافغانستان  داوسني رژیم لوړ پوړي واکمنان ټول د یرغلګرو لاس پوځي دي ، او افغان ولس ته کوم مشروعیت نه لري ۰

دبله طرفه  امریکایي چارواکي سعي او  تلاښ  کوي ، چې د امنیتي تړون سند ژرتر ژره تر لاسه کړي ، او وځنګ ته يي افغان ولس ته دا بیره هم ور په ګوته کوي ، که دا امنیتي تړون ددغه لويي جرګي له خواه رد او دقبول وړ ونه ګرځي نوموړ به خپل ټول سربازان دافغانستان څخه وباسو او اقتصادي کومکونه به هم قطع کړو ۰ چې داخپله هغه سیاسي دچل او چم څخه ډک فشار دي ، چې یوازي دامریکا دګټو ښکارندويي کوي ، چې د هم دې  امنیتي تړون په لاس لیک کولو  کي به دوي هر څه تر لاسه کوي ۰  ځکه نو دامریکا دبهرنیو چارو وزیر د اکتوبر په نیمايي کي افغانستان ته راغلي او  د کرزي سره تر یوي نیمي ورځي ملاقات وروسته دواړه   دارګ په ماني کي  دامنیتي تړون په هکله  دژورنالستانو په وړاندي ښکاره او کرزي دنورو خبرو تر څنګ   داسي وویل :

دغه تړون به د افغانستان عزت او ملي حاکمیت پرځای کړي مونږ په دې سند کې پر ملي حاکمیت، د ملکي تلفاتو د مخنیوي پر مسأله، د تجاوز پر تعریف او د بهرنیو ځواکونو د خپل سرو عملیاتو په مسأله کې توافقاتو ته سره ورسېدو.

د بهرنیو ځواکونو او عسکرو د مصونیت په برخه کې بحث اوږد نشو ځکه خبره واضح وه، چې هغه به د افغانستان د خلکو جرګه فیصله کوي، نو سند به بشپړ د افغانستان جرګې ته وړاندې کېږي او جرګه به بحث پرې کوي په ځانګړي ډول د مصونیت پر مسأله.

اوور پسي د امریکا د بهرنیو چارو وزیر جان کري  دنورو خبرو تر څنګ هیله څرګنده کړه چې دغه جرګه به د امریکا په ګټه پریکړه وکړي ۰ دکرزي او جان کري دخبرو څخه داسي نتیجه اخیستل کیږي  ،  چې دکرزي څرګندوني  دپخواه په څیر دچل او چم څخه ډکي ، هوايي او دملي ګټو ضد خبري دي ۰ ولي دجان کري دڅرګندونو څخه معلومیږي چې ، دي سل په سل کي اطمینان لري چې  دا په نامه لویه جرګه به دامریکا ګټي په نظر کي نیسي. داځکه چې دا جرګه داستخباراتوله خواه  څخه سازمان دهي کیږي ۰

که دپورتني امنیتي  تړون مشروعیت ته دلاس پوځي حاکمیت تربیرغ لاندي  وکتل سي ، دملی او نړیوالو حقوقو له پلوه هیڅ ډول مشروعیت نه سي پیداکولای ،  دا ځکه چې : دهیوادونو تر منځ  د ستراتیژیکي او امنیتي تړونولاس لیک کول هغه وخت حقوقي مشروعیت تر لاسه کولایسي چې دواړه مستقل او یو پر بل دپوځی یرغل څخه دباندي شتون ولري ۰  ځکه دیوه هیواد داشغال په مهال کي هر نظامی او اقتصادي تړون دغالب هیواد دګټو منعکس کوونکي وي ، دا ځکه  چې لاس پوځي رژیم يي دخپلو شخصي ، ګروپي ګټواوبقا له پاره هر ډول تړونونوته حاضروی، چې لاس لیک يي  کړي ۰ چې په دې حالت کي په ښکاره ډول  ملي ګټي تر پښو لاندي کیږي ۰ ځکه نو کرزي او ډله يي کوښښ کړي دي چې ددې استعماري امنیتي تړون متن دلاس لیک څخه مخکي  دجمعي رسنیو څخه لیري وساتي ۰ ځوځان او ډله يي  دولس دقانوني او مشروع فشارڅخه دیو لنډ وخت له پاره پټ ساتل سوي وي۰

ــ دقضايي مصونیت په هکله په لنډه توګه باید ووایو:  څه رنګه چې  افغا نستان یواسلامي هیواد دي اود ولس  نیژدي ۹۸ فیصده يي داسلا م په مبارک دین باندي مشرف دي ، او  په دې باندي عقیده لري ، چې پاک خداي ( ج) دیوه بنده دحق څخه بل بنده ته نه تیریږي یعني دا( حق العبد ) دي۰ دا په دې معني چې که یو انسان دبل انسان په ذریعه په قتل رسیږي دا حق یوازي دهغي کورني دي ، چې مقتول پوري اړه پیدا کوي چې هغوي دا قاتل بخښي ، او که داسلامي شریعت سره سم جزا ورکوي ۰ ځکه نو په افغانستان کي هیڅ داسي یو ارګان او لوړ پوړي حاکمیت شتون نه سي پیدا کولاي ، چې د  یو ه خارجي هیواد پوځ ته دقضايي مصونیت حق ورکړي ۰ حتا که په افغانستان کي مشروع قانوني

حاکميت هم شتون ولري ، دقضايي مصونيت حق و بهرنيو لښکروته نه سي ورکولای ۰ چی بهرني مجرم پوځيان دبشري او اقتصادي جناياتو په کولو سره بيا هم مصون وګرځي ، او يا دتيرو کلونو په څير ځيني بهرني جنايتکاران د رواني مريضي تر نامه لاندي او ځيني بيا په خپلو هيوادونو کي دمحکمي تر نامه لاندي دافغانستان څخه و ايستل سي ۰ ځکه نو نه کرزي او نه داستخباراتو له لاري راغوښتل سوي (۲۵۰۰) کسيزه په نامه لويه جرګه ددې صلاحيت لري ،چی دا امنيتي تړون امضاء کړی ۰ ځکه ددې تړون امضاء کوونکي به دملي خاينينو په نامه ياد سي ۰دبله طرفه وسله وال مقاومت هم دا تړون غير قانوني او نا مشروع بللي دي ۰ ځکه نو، وځنګ ته به د بي امنيو لمن پراخه ، افغان به يي دافغان سره په جنګ اچولي او دمنطقي هيوادونو ته به يي ښه پلمه په لاس ورکړي وي ۰ بايد ووايو چه په اوس مهال کي دنړي دسياسي او اقتصادي شرايطو څخه هم داسي معلوميږي ، چه که هر څونه ژر دافغانستان داوسني لانجي دسياسي حل له پاره سعي اوتلاښ وکړل سی ، په هغه اندازه به په افغانستان او منطقه کښي بشري ناورين ته دپاي ټکي ايښول سوي ، دافغان ولس ګټي به خوندي ساتل سوی ، او د ريښتيني ولس واکي له پاره به هم پراخه زمينه رامنځ ته سوي وي ۰ ځکه نو ضرور او لازمي ده چی ژر تر ژر ه په کابل کي يو بين الا افغاني کنفرانس جوړ، چی په دې کنفرانس کي نه يوازي د سياسي حل د ميکانيزم پر وړانديزباندي پريکړه وسي ، بلکه په دې کنفرانس کي بايد يو کميسون هم وټاکل سي ۰ چی د هم دغه منتخب کميسون په ذريعه د ميکانيزم وړانديز ملګرو ملتونو ، دامريکا تر رهبري لاندي نړيوالي ټولني او دوسله وال افغاني مقاومت ورهبريو ته وسپارل سي ۰ چی ددې کنفرانس ابتکار بايد ملی ډموکراتيک ګوندونه او ملی مستقل سياسي کار پوهان په لاس کي واخلي ۰

ولي دا هم بايد په ښکاره وضاحت دجنګ دواړو خواوو ته توضيح او و ويل سي ، چه دواړه طرفه بايد دخپلو هغو غير عملی دريځونو څخه لږ څه شاته ولاړ سي کوم چه په افغانستان او منطقه کښي دصلح دراتلو دخنډ سبب ګرځي

دمثال په ډول :

امريکا او ددوي لاس پوڅي دولت بايد داشرط دوسله وال مقاومت په وړاندي ليري کړي ، چه هغوي دي دافغانستان اساسي قانون ومني او وسله دي پر مځکه کښيږدي بيا دي نو دخبرو وميز ته حاظر سي ۰ چه دا نو په واقعيت کښي دمذاکرو له پاره شرط نه بلکه په ښکاره ډول دتسليمي معني لري ۰

ولي وسله وال مقاومت هم بايد دمذاکرو څخه وړاندي دملی ګټو په پام کي نيولو سره داسي شرطونه ليري کړي ، چی هغه د مخامخ خبرو او مذاکرو دخنډ سبب ګرځي ۰

دافغاني منتخب کميسون دوړانديز له مخي دي د ملګري ملتونواداره بايدپه دې حساسو شيبو کي ودې ته وهڅول سي چی دامريکا تررهبري لاندي نړيوال ائتلافي ځواک ، دافغانستان وسلوال پوځ او ددولت په مقابل کي وسله وال مقاومت بي له قيداوشرطه اوربند اعلان اودملګرو ملتونوله خواه دي دواړه طرفه دمذاکري له پاره و نړيوال کنفرانس ته راوبلل سي۰

دسياسي حل دميکانيزم له پاره ځيني اساسي ټکي :

۱ ــ ددې نړيوال کنفرانس افغاني ګډون کوونکي بايد دافغانستان داوسني حاکميت اوددوي په مقابل کي د وسله وال مقاومت سربيره يو تعداد آزاد پر وطن مين په داخل او بهر کښی سياسي کارپوهان ، دملي ډموکراتيکو ګوندونواستازي اويو شمير په ولس کي محبوب شخصيتونه وي۰

۲ ــ دا نړيوال کنفرانس بايددهيڅ يوه بهرني هيواد دنظامي ، سياسي اواقتصادي اغيزي لاندي نه وي۰

۳ ــ دبهرنيو قواوودوتلو زماني جدول دي داسي جوړکړل سي ، چه هيڅ نوع بي امنيو ته مخه خلاصه نه کړي۰

۴ ــ که د بهرنيو قواوو دوتلو پر سر اوزماني جدول باندي خبرو ځان ته مشکله بنه اختيار کړل ، نوپه هغه صورت کي دي ددغه ټاکلي وخت دپاره دملګرو ملتونو دصلح ځواک او يادي داسلامي نړي دهيوادونوڅخه تظامي پوځونه بله

ګاونډي هیوادونو څخه  را وغوښتل سي کوم چی دیرغل په کلونو کي دناټو تر رهبري لاندي شتون نه درلودي ۰ ولي په هم دغه ټاکلي وقفه کي باید په مملکت کښی ټولي غیر قانوني اسلحی دهر ګروپ اوخصوصي امنیتي شرکتونو څخه چه وي راټولي اودملي دفاع  او کورنیو چارو وزارت ته وسپارل سي۰

۵ ــ دا نړیوال کنفرانس بایددافغانستان دملي ګټو په نظرکي نیولو سره نوي لنډ مهاله اداره جوړه اوترراتلونکي لویي جرګي ترجوړیدو پوري دي  دولتي چاري مخ ته بوزي۰

۶ ــ داکنفرانس باید پر نړیوالي  ټولني باندي زور واچوي چه دراتلونکو پینځو کلونودپاره بي له قیده اوشرطه خپلو اقتصادي کومکونوته ادامه ورکړي ۰ ولي دهرکال په اخر کښي باید دپیسو دمصرف دقیق راپور واخیستل سي اودنوي کال اقتصادي کومک پیسي دی  ددولت په واک  کي کښیښول سي۰

۷ ــ ملګري ملتونه باید دامنیت شورا ته وظیفه ورکړي چه په راتلونکو وختونوکي دافغانستان په کورنیو چارو کي کوم بهرني هیواد مداخله ونه کړي ۰او په دې هکله دې دافغانستان نوي دولت ته نړیوال تضمین هم ورکول سي ۰

۸ ــ د افغانستان نوي  دولت  باید دپخوا په څیر خپله عنعنه ئي بیطرفي وساتي او خپلي ډیپلوماتیکي اړیکي دي نه یوازي  دهمسایه هیوادونو  سره بلکه دنړي دټولو هیوادونو سره دمتقابل احترام پر اصل باندي وساتي ۰

تمت بالخیر

۲۰۱۳/۱۱/۱۵